شهادت

وهمچنان شمارااامت وسطي ساختيم
تابرمردم گواه باشيد وپيامبر(ص) برشماگواه باشد

(٨)صفحه

ارگان مركزى حزب اسلامى افغانستان

الهي لارښوونې

لوي خداي(ج) فرمايي:
اي مؤمنانو! پرتاسي څه شويدي چي كله تاسي ته دالله په لاركي د وتلووبل شول نوتاسي په ځمكه درانه كيناستلي ،آيا تاسي داخرت په مقابل كي ددنياژوند غوره كړي ؟
كه داسي ده نوتاسي ته دي معلومه وي چي ددنياداژوند وسايل به په اخرت كي ډيرلږ راووځي
التوبه ٣٨ آيت

محمدابراهيم آمر ومرتضي عضو تحقيق صدارت رژيم مزدورطي عمليات مجاهدين درشهركابل به هلاكت رسيدند

آمريت وفا مربوط رياست امور نظامي حزب اسلامي افغانستان به اداره روزنامه شهادت خبر ميدهد كه مجاهدين قهرمان ومؤمن ما دربهلوي اينكه درسنگر هاي گرم جهاد درمقابله روياروي ومسلحانه قرار دارند ، باوجود تدابيرشديد امنيتي رژيم درداخل شهركابل نيز عمليات مخفي شانرا برضد كمونيست هاي جنايتكار و مراكز عمده آنها موفقانه به پيش مي برند. به سلسله اين عمليات درين اواخر دوتن ازجنايتكاران كمونيست وبلند رتبه دولتي هريك محمد ابراهيم آمر تحقيق صدارت ومرتضي عضوتحقيق صدارت رژيم مزدور دريك حمله برق آسا به هلاكت رسيدند

همچنان يك عراده موتر مربوط فرقه هشتاد سيدكيان كه مواد نظامي را به ميدان شهر نقل مي داد ذريعه ماين كار گذاشته شده مجاهدين دردوراهي پغمان منفجر گرديد كه دراثرآن سه تن از صاحبمنصبان شديداً زخمي وبكتن از بن جنايتكاران به هلاكت رسيده است ،موتر مذكور بكلي حريق گرديده است.

شماره مسلسل (٣٩٨) سال چهاردهم ،شماره (٩٤)پنجشنبه (١٦)عقرب ١٣٧٠ هـ .ش- (اول)جمادي الاول ١٤١٢ هـ.ق- (٧)نومبر ١٩٩١م

دربحبوحه تحريم مذاكرات ماسكو ازجانب حزب اسلامى ، هيئت بلند پايه روسى درداخل افغانستان بابرادر حكمتيار ديدار وگفتگو نمود

درتبادله اسرا بين مجاهدين وروسها كه اخيراً در اسلام آباد صورت گرفت ماسكوهنوزپنج نفر مارا آزاد نساخته است

طلب غرامت جنگ ازروسها حق مسلم ملت مسلمان افغانستان است

من حكومت ظاهرشاه را براي يك لحظه هم نخواهم پذيرفت

حزب اسلامي افغانستان به تاسي ازقاطعيت وصراحت اسلامي وانقلابيش وباوجود تاكيدات مكررحلقه هاي ذيعلاقه وتقاضاهاي صريح وباربار مقامات روسي مذاكرات ماسكورا تحريم كرد، تحريم دور فعلي مذاكرات ماسكو بادرنظرداشت ملاحظات منطقي ومعقولي كه شرح آن قبلاً توسط ارگان هاي خبري ونشراتي حزب اخبارشده صورت گرفته است .

بدنبال اين تحريم وقاطعيت، روسها مجبورشدند هيئات خاص وبلند پايه اي رابابادرمياني دوستان پاكستاني مايه مركزفرقه "سما" غرض ديدار ومذاكره بابرادرحكمتيار اميرمحبوب حزب اسلامي

حل معضله افغانستان بهتر است ازطريق مذاكرات مستقيم بين مجاهدين وروسها دنبال شود نه ازطريق تفاهم بين ماسكوواشنگتن

ماچنان احساس مي كنيم كه ماسكو هنوز درمذاكرات بامجاهدين اخلاص وصداقت ندارد

نجيب به شرطي ازعفوعمومي استفاده كرده مي تواند كه ندامتش را عملاً ثابت نمايد

براي يلتسن آسان است كه براي حل قضيه افغانستان گام بردارد

بداخل افغانستان اعزام دارند .

روسهاكه ديگربه اين تحليل رسيده اند كه بدون حضور حزب اسلامي افغانستان هرنوع تلاش براي حل قضيه افغانستان ثمره نخواهدداشت ، بدين وسيله خواسته اند تا روي مواضع قاطع واصولي حزب اسلامي افغانستان ، مباشرتا بابرادرحكمتيار گفتگونموده ودرزمينه اطلاع حاصل نمايند .

به خاطر آگاهي خوانندگان محترم شهادت اينك متن كامل اين گفتگو را به نشر ميسپاريم .
(اداره)
هيئت روسي مطالب خودراچنين مطرح كرد
:

ص(٧)

كمك به ورثهٔ شهدا ومعيوبين جهاد ازمنابع اسلامي بوده كه ازطرف اشخاص مسلمان درخارج كشور تمويل ميگردد

استادعلي انصاري

صفحه (٦)

وضع صحي ظاهر شاه وخيم است

روزنامه نواي وقت چاپ راولپندي درشماره روزچهارشنبه خودنوشته است كه حكومت ايتاليا اعلان نموده است كه وضع صحي ظاهرشاه پادشاه سابق افغانستان كه روزدوشنبه توسط يك تبعه پرتگالي به ضرب چاقو مورد حمله قرارگرفت وزخمي شد وخيم است .

دراين حمله وي ازناحيه روي، گردن وشكم زخم برداشته داكتران ميگويند كه زخم هاي شاه سابق روبه خرابي ميرود وبه همين اساس زندگي شاه رادرخطر انداخته است . قبلا ازوضع صحي ظاهرشاه اظهاررضائيت شده بود .

پوليس ايتاليا كه ازشخص دستگيرشده تحقيق ميكند گزارش ميدهدكه ضارب يك مسلمـــــــــان ومخالف اعاده سلطنت برافغانستان ميباشد . بعضي از گروه هاي جهادي مستقر درپاكستان اين حمله رامحكوم كرده اند .

گفته شده كه ضارب پاسپورت پرتگالي دارداو ژورناليست است و ٢٦سال دارد ودر انگولاتولد شده است .

وي درجريان استنطاق به پوليس گفت : كه وي يك مسلمان است ولي ازدادن جواب به اين سوال كه چراسعي كرد محمدظاهرشاه رابكشد خودداري ورزيده است .

پوليس ايتاليا ميگويد شخص مظنون تقريبا ده روزقبل ازطريق فرانسه وارد ايتاليا شده بود.

تمام نظامیکه بی اندازه معتبربان نعابت منهدم است

سر مقاله

پخواني پا چا بايد روغ رمټ محاكمي ته راولو

د بوش نوي نړيوال نظام چي په گرده نړي كي له اسلام اومسلمانانوسره ښكرپه ښكر ښكاري، او ترټولو ستر هدف يې له خپل ورووستي پراوته دافغاني جهاد راگرځول دي . پخپل اخري قوت دازيارگالي ، چي منزل ته رسيدونكي دشهادتونواوقربانيو كاروان ديوې ته يوې دسپسي ښكار كړي ، او دسلامي ويښتابه سرتاسر ي نړيوال غور ځنگ چي دهمدي جهاد نقش اواثځور دي ، دناامېدي اونهيلي په سمندر لاهوكړي، اوبيا دخپل نړيوال چلند پرلوردايكي يوستر ځواك په توگه قدم پورته كړي، دابه هغه وخت وي، چي دامريكايي ښكيلاك په وړاندي قيام كوونكي ځواكونه به په پريكنده ډول له منځه وتي وي ، اوكه كوم اقتصادي عكس العمل يې په مقابل كي وجود ولري، نوځكه هم په ډېره چټكي له ځان سره پوځلاكولي اودخپل ځان دننه يې تغښتلي شي، ځكه دادول خوځښت راپيداكيدل كومه منظمه بنسټيزه فكري زيربنانه لري، تش دگڼتو ځېره وي، چي پكي جذبه اوقرباني هيڅ لاس ته نشي درلودلي ، نوځكه يې خطرډېركم اوكومه بنيادي ويره نشي راپيداكولي. موږوليدل ، چي روس اوامريكا پخپلو گډونږيوالو هڅو دافغان جهاد پرضد له يوې رسوايي ته هم لاس واته خيست ، اويه پرله پسي ډول يې له خپلي شيطاني ججوري ته دمكروفريب مرمي ضربه واوروولي اوچي هرځل يې په كومه چلوته لږ وخت اوښتي، نوميدان يې سربدوته ته دي پريښي اوسمدستي يې پسي دلوزوياران جوړكړي دي . چي داوروستي گام يې دسياسي حل هغه تگلاره وه ، چي سل په سلوكي تري دښكيلاك داهدافو دېشبړېدو هيله كيدله . خو دخداي (ج) په فضل دمجاهدينو پريكنده دريځ يې دنفاق په اوريخي اوبه توېي كړي . كه څه هم پدي برخه كي دجهاد سياسي سوداگرانو اواسلام دښمنه لوريو دامريكا په دروازه كي دننه بخښوونكو انعطافاتو نذرانه وړاندي كړه ، خوددي پرځاي چي امريكايي پلانونو ته يې څه گټه رسولي وي، دمجاهدملت له خوادسخت تحقير اوتذليل سره مخ شول، داتبني تښاني دومره عرگندي وي، چي پخپله ددښمنانو له خواهم پري اعتراف وشو، لكه ماسكوته دتلونكي وفديه باب چي

مخ(٧)

دراثربمباردمان طيارات رژيم ملحد درولايت بغلان هفت تن از اهالي بي دفاع شهيد و ٢٠ تن مجروح گرديد

ميديا - بغلان

راپور هاي واصله از ولايت بغلان حاكيست كه طيارات رژيم ملحد بتاريخ (٧) عقرب مركزبغلان ولسوالي آزاد تهرين ومنطقه حسن تال را تحت بباردمان شديد قرار دادند كه درنتيجه درمركز تهرين واطراف آن (٣) تن از اهالي شامل زنان واطفال شهيد و (١٢) تن مجروح چهار منزل مسكوني تخريب و(٣٥) راس مواشي تلف گرديده است.

همچنان مجاهدين بتاريخ (٤) عقرب بالاي پوسته هاي امنيتي شاهراه بغلان كابل درمنطقه ولسوالي دوشي عمليات نموده اندكه درنتيجه آن تعدادى ازعساكر ومليشه رژيم ملحد هلاك وعده زخمي گرديده وتعداد (٥) نفرآن باسلاحهاي دست داشته شان اسير مجاهدين گرديده اند.

دغورولايت مركز چغچران دمجاهدينو ترسختو بريدنولاندي دي

غور- دلرم دوهمه

دغورولايت نوميالبو غازيانو دميديا په حواله خبر راكړي چي دنوموري ولايت برمپالوغازيانو دچغچران ښد دځپلودرندو وسلو تر بريد لاندي نيولي اودلاس پوځي رژيم پلويانو ته يې درانده تاوانونه اړولي دي .

ربوټ ليكي چي مجاهدينو دروان كال دلرم دمياشتي په دوهمه نيټه دغورولايت مركز چغچران دځپلودرندو وسلو تر بريدلاندي نيولي اودلاس پوځي رژيم گن شمير نظامي تاسسات يې زيانمن كړي اوهم يې له كمونستانو څخه (٣٥) كسه عسكر اوصاحب منصبان وژلي دي.

خبرځاي ليكي مجاهدينو دچغچران ښاره څلور طرفونه محاصره كړي اوددولتي قواووبوقوماندان دمحمد اسحق په نوم يې ژوندي نيولي چي دمجاهدينو تر محاكمي لاندي دي.

په خليج كي امريكايي پوځ ٤٠تنه عراقي پوځيان ژوندي خښ كړي دي

بغداد : دلرم ١٤ نيټه :

دعراق د ذيقار په ايالت كي يوډله ايز قبر موندل شوي دي ، دعراق د راديو د ربوټ سره سم په دغه قبر كي دعراق دځلوېښتو تنو پوځيانو مړيوو چي دامريكا پوځيانو له خوا دخليج د جگړي په وخت ژوندي خښ شوي وو. ربوټ زياتوي چي د دغو پوځيانو په وجودوكي د تېبي كيدو كومي نښي نه ليدل كيدي.

شوروي دكندي غاړي ته رسيدلي دي

گرباچوف

مسكو : دلرم ١٤ نيټه .

دشوروي جمهور رئيس گورباچوف اعلان وكړ چي شوروي داقتصادي او سياسي له نظره دكندي غاړي ته رسيدلي دي .

گورباچوف چي په مسكو كي شوري ته وينا كوله ددغه هيواد مصيبت ناك حالت ته په اشاري سره اوداصلاحاتو په هكله دشوروي دجمهوريتونو پرځان ځاني باندي دنيوكي په ترځ كي ووېل هيڅ يو جمهوريت نشي كولي چي په يوازي توگه ددي مصيبت اولانجي څخه شوروي وژغوري .

دشوروي خبري آژانس تاس اعلان وكړ گورباچوف د اقتصادپه هكله دروسيي دجمهور رئيس يالتسن داصلاحي پروگرامونو ملاتړ وكړ.

هيئات حاكمه فعلي ايران بجاي موضعگيري سالم ومكتبي درقضيه افغانستان.متأسفانه جانب غربگراهاوملي گرا هاراگرفته است

حالات په کابل کي ورځ په ورځ دمجاهدینو په ګټه بدلون مومي

تنګیار

دسرتاسري عملیاتوپه ترڅ کي چي مجاهدینو څومره ستریریالیتوبونه تر لاسه کړي دي همدومره دمزدوراوکمونست رژیم حالت هم ورځ په ورځ مخ په زوال روان دي . په عسکري فتحواوبریو برسیره ، مجاهدین پدي توانیدلي چي رژیم دخوراکي اوسونګ موادوله پوره کمبودسره مخامخ کړي . په ګردیز، جلال آباد ، لغمان ، لوګر، میدان ، پروان اوکابل کي دعملیاتو په پیل کیدوسره ، کابل له څلوروخواونه ترسختي کلابندي لاندي راغلي، چي دهغه له امله ټولي لویي لاري پاټرل شوي دي اوښادترلو په حال کي دي .

دلارودبندیدو اودکابل په ګبون دهغه په څلوروخواوکي دسختي جګړي له امله په کابل کي دموادوګراني دي حدته رسیدلي چي اصلاً دباوروړنه ده . پرګراني برسیره دموادو کمبوداوقلت هم دکاګرورژیم لپاره ستري ستونګي اومشکلات راپیداکړي .دمثال په ډول دموټرو کرایه داسي حدته رسیدلي چي له ډیره ضرورته پرته سپریدل یکي امکان نلري . دهغي لاري کرایه چي پوکال مخکي سل افغاني وه اوس زرافغانیو ته لوړه شویده . همدارنګه داورو، وریجو ، غوړیو، بوري، تیلواولرګیو ترخونه دپروسږکال په پرتله څوځله زیات شویدي، چي دهغه له امله دکابل ښاراوسیدونکي په یومخ له رژیمه بیزاراو برالا رژیم ته بدي ردي وایي .

له بوي خوادترخونو لوړیدل اودموادوکمبوداوله بلي خوادسرتاسري عملیاتو په لرکي دررژیم دبي شمیره کسانو وژل کیدل، دکابل خلک دررژیم په ضد راپاروي اوورځ په ورځ له رژیم سره دارډکو پریکولو په حال کي دي .

له کابل نه پر رارسیدلیو خبرونو کي ویل کیږي چي اوس حتي دررژیم مهم او عټ کسان هم له نجیب سره له مرستي نه ډډه کوي اوپه روړه بي ځواب ورکړي . له رژیم نه دناراضیانو شمیر په بي ساري ډول مخ په زیاتیدو دي . داسي چي ګڼ شمیر حکومتي لوړپوړیه مامورینو له مجاهدینو سره اړیکي ټینګي کړي او دهراړخیزي مرستي ژمنه یي ورسره کړي .

همدارنګه په خبرونوکي ویل کیږي چي دررژیم دغه لوړرتبه پوځي اوملکي مامورین دمجاهدینو ډیرمهم کسان په خپلو کورونوکي ساتي اودعملیاتو په برخه کي ورسره مرسته کوي . دي ډول تیرواتنکشافو تر رژیم له سختي ویري او وارخطایي سره مخامخ کړي اوویل کیږي چي مزدوروانجیب اوملګري یي هندته دتیښتي ترتیبات نیسي .

ځکه دحکومت اداره یي له توانه وتلي ګډوډیو اوخپلسریو دنظم اوقانون ځاي نیولي اوهرڅوک دخپلي میهني راتلونکي په فکرکي دي . ولي دکابل ښاریان هم دلوږي اوله شرمه ډک مرګ په پنجوکي داسي راګیرشوي چي دحل په چل یي نه پوهیږي ، ځکه له ښاره وتلوته یي دکاګرورژیم امنیتي قواوي نه پریږدي اواوسیدوته یي لوږه اوجبري عسکري .....

دکابل اوتولو هغو ښارونو اوسیدونکي ، چي دمزدوررژیم په ولکه کي دي پوهیږي چي یوه دخلاصون اوله افتخاره ډکه لاره مخ کي لري اوهغه داچي ټول په متحداویومخیز ډول دمجاهدینوپه ملاترددغه ظالم اوکاګرورژیم په مقابل کي سرتاسري پاڅون وکړي اوتر هغو دوام ورکړي، ترڅو رژیم راښکوروشوي نه وي . پدي ډول به هم له دي تدریجي مرګ نه خلاص شوي وي اوهم به یي داسلام ، هیواد اوناموس په وړاندي خپل تاریخي مسئولیت اداکړي وي .

له ښارونو وتل اوهجرت سره له دي چي ممکن میسرشي، ولي رژیم ته ډیرتاوان نشي رسیدلاي، ځکه دغه دملت قاتلان به بیاهم دښارونو ترپوره وراندیدلوپوري مقاومت وکړي ، ولي چي په تسلیمیدوکي دخپلو تاوره اعمالو په کولو سره دژوند امکان نه ویني . نوځکه ګټوره داده چي دښاروونوخلک په ښارونوکي دررژیم په ضدراپورته شي اودغه دیوتیم ملیون شهیدانو قاتلان په خپلو کورونو اوسنګرونوکي ، یو ، یو سنګسار کړي .

پدي باب باید موثر جهادي تنظیمونه اوپه عملیاتوکي شریک قوماندانان دیوقاطع او موثرپلان اوپروګرام له مخي دښارونو له خلکو سره دسرتاسري پاڅون په رامنځ ته کولو کي مرسته وکړي اودغه پاڅون رهبري کړي . البته دعملیاتو دوام باید په هیڅ ډول وته دریږي اودعملیاتو په څنګ کي دخلکو دراپارولو کارته هم اهمیت ورکړي .

ځکه خلک اوس دررژیم دظلمونو اوتیریو له امله دغسي پوهاڅون ته چمتو ښکاري او بي له دي کاره بله دخلاصون لارهم نلري .

په کابل کي له وروستیو حالاتو نه داپه ډاګه معلومیږي چي دررژیم عمرپاي ته رسیدلي . حتي په خپله کافر نجیب هم اوس پدي باوري دي چي نور حکومت نشي کولاي ، هغه چي څومره سترګي سپیني کړي اوخپله ټینګه یي ټن اوسپاته ګڼلي ، نش پدي هیله که دسیاسي حل له منظورامنتیو نه په څه جوړشي، بیا چي له دي ځایه دګیټو چوکي پرستوله څوامر وګډحکومت اوروغي جوړي څه داډورکړل شي، نوداګاډټ امیدیي تورهم وخوړیږي .

که تنظیمونه اومجاهدین یي صبره نشي اودګفاروپه

مسکوته تلونکي جهادي هیئات به څه بایلي اوڅه به وګټي؟

فدا محمد "فایض"

هغه وخت چي روسانو پرافغانستان پوځي تیري وکړ نوټولي نړي دافغانستان کارقام وګانه او ګردو نړیوالو داومنله چي افغانستان دمنځني آسیا د مسلمانو جمهوریتونو په څیر دسره ښامار ګیدي ته ورولوید، داسي چي بیرته راوتل یي ناشوني کاردي ، خوکله چي افغان مؤمن ولس دنړیوالو دانداواټکل پرخلاف دسره پوځ مقابلي ته ملاوتړله نوپه ټولو نړیوالو اوخصوصاً هغوهیوادو نو اوولسونوکي چي دسره پوځ له زیات خطر سره مخامخ وو ساوچلیده ځکه خودجهاد په پیل کي لویدیځوالو دافغان مجاهد ملت قهرماني او سوبي په ډیر کروفرسره متعکسولي ، خوکله چي سوربیرو په ګوندوشو اودي ته اړشو چي نور له افغانستان نه ووځي نو دلویدیځ والو په دریځ کي هم ښکاره توپیر راغي او په دي ویره کي شول چي که چیري ددي فاتح قوم په لاس په افغانستان کي اسلامي حکومت جوړیږي دا به پانګوال نظام او غربي لادیني جمهوریت ته هم جدي چلنج وي ځکه کمونیزم چي یوه نظریه وه او څه له پاسه اویا کاله یي په ډیري چټکي سره خپلي تیلي په نړي کي وځغلولي ، په ایډیولوژیکي اونظامي سنګرونوکي داسلام اومسلمانانو په وړاندي ماته وخوړه نولویدیځ پانګوال نظام خو بي چي ګومه نظریه هم نه ده دیوي ورځي دټینګي هم نه دي نو داوخت ؤ چي مسکو او واشنګټن یودبل اوریږونه سره یوي کړل او زمونږ داسلامي انقلاب دناکامولوګډي خاینانه هڅي یي پیل کړي.

دافغان جهاد پرخلاف دروسانو او امریکایانو ګډي دسیسي هغه وخت پیل شوي چي دژنو درسوا او شرمیدلي ترون نه څه موده دمخه یوه ګډروسي او امریکایي هیئات په ژنو کي سره وکتل او دیوه شرمیدلي ډرام ستیج کولو ته یي سره ملاوتړله او دا هوډ یي وکړ چي دخپل استکباري پلان په مخکي خندونه او موانع لري کړي لکه چي دپاکستان پخواني جمهور رئیس شهید جنرال ضیاءالحق یي لومړي ښکار وه .

دشهید ضیاءالحق تر ویرجن او دردوونکي شهادت وروسته په کرار کرار دافغانستان دقضیي دنظامي حل پرځاي دسیاسي حل دنډوري پیل شوي ان تردي چي نړیوالو سیاسي پیښو اوپدلونونوافغانستان دجهاد پوښمیر

دوست هیوادونه هم دي ته وهڅول چي له نړیوال استعمار سره دافغانستان دسیاسي حل سندره غږګه کړي، په منځني ختیځ کي دامریکا شرمیدلي پوځي مداخلي او ترهغي وروسته ایران او پاکستان ته دامریکا توریریش ددي هیواد وټو دحکومتونو په پریکنده او مثبت دریځ کي ډیر توپیر راوست او ددي هیواد و دواکمنانو پښي یي ولړزولي.

متاسفانه چي دایران دانقلابي اومسلمان ! حکومت پښي هم کاواکه شوي اودنړیوال استکبار دخوشالولولپاره یي دافغانستان دملت قاتل نجیب ته ښه راغلاست ووایه او له دي سره سره یي ورسره مرستي هم وکړي.

اوس ددي ټولو سازشونو اوتوطیو په نتیجه کي خبره دي حد ته رارسیدلي چي دافغانستان ریږه دسیاسي حل پر خوري ورسمه کړي او زمونږ د بریالي جهاد ثمر داستعمار په لمن کي ولویږي دسیاسي حل په لرکي په دي میاشت نیمه کي مسکوته دافغاني جهادي وفد دتګ خبري ډیر زوراخستي په دي اړه په اسلام آباد کي له افغاني جهادي قیادت سره د پاکستاني اوسعودي مقاماتو ملاقاتونه ددي لپاره وو چي زمونږ مشران دي ته تشویق کړي چي په دي سفرکي برخه واخلي ،خوداسفرهیس ساده خبره نه ده ، داسي نه ده چي په دي یوه سفر به دافغانستان دا لویه ستونزه حل شي.

ددي سفر په اړه باید څو مهم ټکي په پام کي ونیول شي:

الف : مسکوته دجهادي وفدسفرڅه لپاره دي؟

ب : ایا جهادي وفد ددي سفر په اړه واحد دریځ لري ؟

ج : آیا دادریځ دافغانستان دقضیي دعادلانه حل په جهت کي له مؤثریت نه برخمن دي ؟

د : روسان مسکو ته دافغانستان دمجاهدینو هیئات له ورتګ نه څه اهداف لري ؟

هـ : منحیث المجموع داسفر د جهاد په ګټه دي او که په زیان ؟

که چیري مسکو ته دمجاهدینو دهیئات سفر په دي اړه وي چي روسان هلته یوازي دخپلوجنګي اسیرانو مسأله مطرح کړي نو دا مسأله به نه یوازي دا چي کوم افادیت ونه لري چي لادجهادي وفد لپاره به شرموونکي هم وي ځکه داخو بیا دروسانو د قوت او مجاهدینو د نهایت ضعف اوکمزورتیا نمایندګي کوي حال داچي که موږ له روسانو سره خبروته کیښوباید دیوه فاتح قام په حیث کینو او هغه یومات قوت وګڼو اوباید هغه مسایل ورسره مطرح شي چي هغه دي قضیي ته دافغان مؤمن ولس په ګټه خاتمه ورکړي نه داستعماري قوتونو په ګټه ،بله داچي د خبروترپیل کیدو دمخه د تیت رتبه هیئاتونه په ذریعه په یوه دریم اوبي طرفه هیوادکي دکنفرانس په شرایطو او اجنداخبري وشي او ترتوافق وروسته چي د اجندا ،دکنفرانس دځاي او نیټي په اړه وشي خبري پیل شي. اوتردي دمخه هم مجاهدین باید لومړي پخپلو کي سره په یوه ګډ دریځ ،دغونډي په ځاي ، نیټي اودهیئات په ترکیب سره سلا شي او په دي باب استاد لاسلیک شي.

که څه هم چي د روسانو له خوا مجاهدینو ته بلنه دا جوتوي چي روسان په دي قانع شوي چي دافغانستان دقضیي اصلي لوري مجاهدین او روسان دي او مجاهدین دافغانستان دملت اصلي نمایندګان او ددي هیواد وارثان دي اودادروسانو په آخره درجه عقب نشیني ده .

خو ددي ترڅنګ روسان دځان په ګټه ډیر اهداف هم په پام کي لري.

لومړي داچي دخپل ولس اونړیوالو په وړاندي به دافغانستان دقضیي په اړه خپل بایللي اعتبار او حیثیت بیرته اعاده کړي او داسي به وښیي چي دادي هغه مجاهدین چي دا دیارلس کاله له موږ سره وجنګیدل نن زمونږ کورته راځي او داښیي چي مجاهدین له موږ سره کوم بنیادي اختلاف نه لري که اختلاف دي نو هغه فقط د اقتدار پر سر اختلاف دي او که موږ دي ته حاضر شوچي دنجیب د رژیم له ملاتړ نه لاس واخلو اودافغانستان سیاسي واکمني دوي ته وسپارو نو دوي له موږ سره نه نوره میرڅي لري او نه یي کول غواړي.

دویم دا چي یوازي دجنګي اسیرانو دموضوع په مطرح کولو سره به جهادي هیئات تحقیر او بي ارښته به یي وښیي ښکاره ده چي روسان تل دقضیي دعادلانه حل نه تیښته کوي لکه دروسیي داګست تر کودتا څو ورځي دمخه چي کوم هیئات دهغه هیواد دباندینو چارو دوزارت دمرستیال په مشري اسلام آباد ته راغلي و او له جهادي هیئات سره یي وکتل په ډاګه یي دا خبره وکړه چي موږ دافغانستان په مساله کي څه کار نه لرو ، موږ پر افغانستان دتیري اودافغانستان په کورنیو چاروکي دمداخلي یوه اشتباه وکړه او پردي اعتراف کوو او بیا هیڅکله نه غواړو خپله دا اشتباه تکرار کړو تاسي پوه شي او نجیب څه ډول چي خپله مساله ورسره حل کوي حل یي کړي. نو پردي اساس روسان هیڅکله دي ته حاضر نه دي چي دقضیي په اصلي خوا وولو مجاهدینو سره وغږیږي که فرضاً روسان دي ته حاضر هم شي امریکا یي نه پریږدي او ښکاره ده چي نن روسانو بالکل دغربیانو خیرات ته کچکول نیولي دي ، نن که داروپا دصنعتي هیوادو نو ټولنه ، جاپان یا حتي عربي هیوادونه له روسانو سره څو مره مرسته کوي داټول دامریکا په نغوته.

دریم داچي داسفر به دمجاهدینو ترمنځ ډیر لوي درځ ایجادکړي ځکه تر دا اوسه پوري لومړي خودهیئات دمشري په سر اختلافات موجود و اوحضرت صاحب خو دومره ګرمه خوړله چي غوښتل یي له واشنګټن نه چي دملګرو ملتو دسرمنشي اونورو سیاسي مقامونو دلیدلو لپاره تللي وو راساً مسکو ته سفر وکړي چي البته د ځینو سیاسي موانعو له امله یي ونشواي کړاي دخپلو هیلو له بڼ نه دخپلي خوښي ګلان راټول کړي او همدا اوس چي د هیئات دمشري له پاره استاد رباني ټاکل شوي حضرت صاحب په هیئات کي له ګډون نه معذرت غوښتي اوخپل وررور حشمت الله یي ددي کار لپاره ټاکلي دي ، په همدي ترتیب سره اکثره مؤثر

اوځواکمن جهادي تنظیمونه دیوه ګډ دریځ دنشتوالي او په مسکو کي پرمذاکراتو د انتقاد په عنوان نه غواړي. په دي خبروکي ګډون وکړي . په همدي توګه کله چي داهیئات بیرته راګرځي نو یوه لړ شکوک اوشبهات به هغه ځانه سره راوړي البته دا هم په پام کي ساتل په کار دي چي ګڼ شمیر علماؤاو جهادي قوماندانانو مسکو ته د جهادي وفد له تګ سره خپل مخالفت څرګند کړي دي .

څلورم دا چي زمونږ دهیواد دیونیم ملیون شهیدانو دقاتلانو په هیواد کي مذاکرات به د اوښیي چي مجاهدین نور له پښو لویدلي او له جنګ نه ستړي شوي ځکه خودخپل دښمن کور ته هم راغلل چي ګوندي پرهغوي یي زړه وسوځي اومساله په داسي توګه حل کړي چي دوي ته هم داوړو یوه پوزه شي لکه چي همدا اوس تاسي د ملي ګرا مشرانو څرګندوني او ري چي له جنګ نه دستړیا احساس کوي.

البته دا باید ذکر کړو چي موږ له هرسیاسي حل نه غاړه نه غړوو او نه له سولي نه تښتو زموږ جنګ هم په افغانستان کي دسولي داعادي په خاطر دي موږ دسولي دراتلو په خاطر هغه سیاسي حل منو چي :

روسان دنجیب حکومت سره د هر ډول نظامي ، اقتصادي او... مرستو نه لاس واخلي .

مجاهدین دافغانستان داصلي وارثینو په حیث ومني اوپه رسمیت یي وپیژني .

دکابل له کمونیست رژیم سره خپل ټول کړي تعهدات ملغي اعلان کړي .

لکه څنګه چي وایي موږ پر افغانستان دیوځي تیري په اړه اشتباه کړي رسماً دا اعلانکړي چي موږ له خپلو ټولو ژمنو اوبین المللي قوانینو نه سرغړاوي کړي او په دي توګه ددي تیري دمسؤلیت په منلو سره دافغانستان جنګي غرامات هم ومني .

دانضمین ورکړي چي په ګانده کي به په هیڅ ډول دافغانستان په کورنیو چاروکي لاس وهنه نه کوي.

جهادوتوطئه های دشمنان اسلام

اسد الله چکري

ګرچه انسان ها از نګاه ترکیب ظاهري تقریبا باهدیګروجه مشابه داشته ولي ازلحاظ طرزتفکروتعقل ، اعمال وکردار خیلي ها ازهم متفاوت اند، این موجودیت اختلافات مافي الضمیر انساني درواقع نمایانګر قدرت خالق بي همتائي است که برهرکه بخواهد نعمتش را ارزاني وهدایتش را مشعل راه رستګاري وفلاح بندګان مومن خویش نموده واوشانرا تامرحله اشرف المخلوقات ارتقا داده سعادت دارین نصیب شان مینماید.

درغیرآن شخص راه ضلالت وګمراهي خواهد پیمود که در نتیجه حاصل کاروعمل این چنین اشخاص جز ذلت ورسوائي دنیا وندامت وپشیماني آخرت چیزي دیګري نخواهد بود .

شک نیست که دنیا براي انسان دارالابتلا بوده وهرآنچه درجهان فاني ازطرف شخص انجام شود انعکاس آن را خود درعالم جاوداني بوضوح ملاحظه نموده مجازات ومکافات منصفانه وعادلانه ئي ذات کبریایي رابدون کم وکاست دررزق واپسین وآن لحظات ترس وهیبت خواهد چشید .

ازجمله کارهاي نیک زندګي عالم دنیا براي مسلمین یکي هم جهاداست . جهاد محکي است براي تفکیک صفوف حق پرستان وباطل پسندان .

جهاد درحقیقت درس بیداري وتحرک درمقابل زندګي خمود وجمود ملت هاي تحت ستم ، وګذشته ازآن راهنماي استقامت وپایداري وازخودګذري دربرابر دژاستعماروانستثمار ، وسلطه طلبان وکشورکشایان است . ازهمین جاست که میتوان ګفت ملتیکه جهادمیکند وقرباني میدهد به آزادي هاي فردي واجتماعي ، سیاسي ونظامي خود نائل مي آیدولي فراموش نباید کردکه درقبال هرجهاد توطئه هاي دشمنان اسلام وحسا دت تنګ نظران استعمارګر توأم باجهاد به پیش میرود .

چنانچه وقتي امریکاوهم پیمانانش هزیمت روس را درکشورماباچشم سرملاحظه نمودند، باوصف موجودیت تضادهاي سیاسي اقتصادي وکلتوري که باهم داشتند امروز ازیک ګریبان سرمي کشند، یک نوع پلان راجع به حل معضله افغانستان عنوان مي کنند . .

وبالاخره بایک آوازمیخواهندجهادمارا باتبلیغات دروغین وغرض آلود درذهنیت هاي مردم جهان بزعم خود شان تخدیرنمایند . حتي این جادووطلسم مستکبرین خون آشام متاسفانه یک عده اشخاص بي اراده ، مصلحت جووابن الوقت راباا دادن هدایاي ناچیز ووعده هاي میان خالي وغیرعملي اجیر نموده واوشان قدم بقدم پلان هاي مطروحه ي دشمنان عالم بشریت رابدون احساس مسئولیت تائید مینمایند .

چنانچه یکي ازشخصیت هاي معروف وبرجسته ي افغانستان بنام پوهاند غوثي که بخون ملت ما تربیه یافت وتامقام پوهاندي رسیدوخودرا درزمره ي اشخاص صاحب بصیرت وداشنمندجامیزند مي بینیم ومي شنویم که چسان کورکورانه پیشنهادات ۵ فقره یي ملل متحدرا تائید وچنین ابرازنظرمینماید .

" قوماندانان جهادي به تنهایي خود نیز فاقد توان تشکیل یک چنین حکومت ملي وپیشبرد امور میباشد "

چنین نظروعقیده این نابغه مادرزادفقط وفقط شبیه ګفتارهمیشګي روس ، امریکا ونجیب است حال اګراز جناب عالي مقام پرسیده شود آیا همین قوماندانان با پشتیباني ۹۹ فیصد مردم افغانستان نبودند که روسها رادرهمه ساحات زندګي شکست دادند ؟ وآیا همین کسان نبودند که حتي طلسم کمونیزم را در سراسرروسیه به انحطاط کشیدند ؟

اګراین منجم ناپخته وناکرده جهاد کتمان حقیقت نمیکرد وزیر تأثیر تبلیغات دشمنان ماواقع نمیګردید باید اعتراف مینمود که ، کسانیکه به اصطلاح بزرګترین هیولاي جهان را درعرصه ي نظامي بزانو کشید میتوانند حکومت اسلامي مستحکم رابراي آینده ي افغانستان تاسیس هم نمایند .

ودرجاي دیګر میګوید : " ایالات متحده امریکا یګانه قدرت جهاني است که براي حل معضله افغانستان نقش مهم انجام داده میتواند".

ازمحتواي این جمله نامکمل وناسنجش وغیراسلامي آقاي غوثي چنین استنباط میشودکه مذکورازمسائل اسلامي هم آګاهي نداشته چه اظهارجمله موصوف عدم عقیده اش را نسبت به حلال مشکلات (الله ج) اثبات مینماید . وي دوست را ازدشمن تشخیص نداده ازامریکا براي حل مشکلات مردم ، استعانت میخواهد درحالیکه همه میدانند که امریکا بهیچ صورت دوست جهادماومردم ماوسائر کشورهاي مسلمان بوده نمیتواند وبااینکه میګوید :" باعرض وجود جمهوریت هاي تازه ومستقل درآسیاي مرکزي آن توازن قدرت که درسابق یعني ۱۵۰ سال باعث بقاي افغانستان شده بود ازبین خواهد رفت "

ازینجامیتوان فهم ودانش این مردباوه سرا رابخوبي درک کردکه حتي آرزو ندارد ونداشته تاجمهوریت هاي مسلمان نشین آسیاي میانه به آزادي خودنایل مي آیند زیرا آزادي شان توازن قدرت درمنطقه رابرهم زده وسبب ازبین رفتن بقاي افغانستان میګردد .

فهمیده نشدکه منظورازګفتار جناب شان ازین جمله پردازي هاچه بوده ولي به عقیده من افغانستان ازسالیان متمادي یعني ۱۵۰ سال قبل تاکنون تحت قیمومیت هاي انګلیس وګاهي روس بسربرده زیرا هرارباب قدرت وقت بابه نفع انګلیسها کارکرده ویابه مفاد روسها .

تاریخ شاهداین مطلب است انکار ازآن تجاهل عارفانه میباشد وبس . وګذشته ازآن مرا چنان عقیده است اګردرافغانستان یک دولت صدفیصد اسلامي عرض وجودنماید دست دوستي اخوت وبرادري خودرا براي اتحادوهمبستګي صمیمي جهان اسلام پیش نموده وبدینوسیله منابع عایداتي استعمارګرشرق وغرب را حائل خواهد ګردید چون ګفته مفت است لذا موقع راغنیمت شمرده بازهم میګویند " امریکا میتواند بافشاربرپاکستان وبه عربستان سعودي راه صلح وتشکیل یک حکومتي راکه توسط اکثریت مردم افغانستان قابل قبول باشد بازکند واقوام ومنورین افغان درداخل وخارج کشورصرف وقتي میتوانند دوریک محورجمع شوند که یقین حاصل نمایند که محورهمه امیدها وآرزوهاي شان به دوستي باصداقت نمایندګي کرده وتمامیت ارضي واستقلال افغانستان رابااتحاد مردمان آن تأمین نمایند " .

ازمتن این ګفتار چنین برمي آیدکه باید درافغانستان یک حکومت وسیع القاعده بمیان آید.ودرین حکومت همه اقشاروطبقات صالح وغیرصالح بدون درنظرداشت سوابق شان ولو اجنت هاي روس وامریکاهم باشند تشکیل ګردد .

نظر بنده درین مورد این است که دولت بعدي افغانستان راباید سنګرداران سجه جهاد بدون اشتراک نمایندګان واجنتان امپریالیزم امریکا وسوسیالیزم روس تشکیل دهند . تابکمک خداوند (ج) توانسته باشند در همه ابعاد زندګي سجاياي نیک اسلامي راحسب دستورات آسماني واحادیث نبوي (ص) بکایک برخود ومردم خویش بدون هیچګونه تحریف وتصرف به منصه تطبیق قرار دهند .

روس ، امریکا ، یهودوهنود وحتي ایران براي بقاي قدرت نجیب درافغانستان به توافق رسیده اند وکمک هاي شان چه ازنظرسیاسي وچه اقتصادي ازشش جهت بدولت پوشالي نجیب یوما فیوما بصورت مستقیم وغیرمستقیم میرسد ، براي چه ؟

براي اینکه اوشان ازتشکیل حکومت اسلامي ومردمي درافغانستان درهراس اند .

ولي خدا(ج) را شکرګذاریم که وساطت ومیانجیګري دشمنان مابراي بقاي نجیب جزئي ترین مفاد دربرنداشته است ، چه هرروز شنیده میشودکه فلان وفلان سنګرمستحکم باطل پرستان توسط رادمردان حماسه آفرین سربکف مسلمان مایکي بعدیګري فتح میشوند وانشاء اله بعید نخواهد بودکه ګلوي نجیب نانجیب این آخرین سردمداروهوادار روس توسط انګشتان فولادین سپاهیان اسلام به سختي فشرده شده وازقدرت پرانداخته میشود ، مامطمئنیم آنروز دورنیست که نجیب ویارانش درپاي میز محاکمه عدل اسلامي مجازات ګردند .

چه وضع نجیب باوصف جانب داري هاي هم پیمانان ناخلف شان به یاري خداوند (ج) (الغریق یتشبس بکل حشیش) میماند که بهرخس وخاشاکي دست نیازدرازمي کند . وکمک میطلبد . ولي چه سود که وقت ازوقت ګذشته است . چه اکنون طوفان خشم ملت بلادیده وستم کشیده مانسبت آن همه جنایات نابخشودني نجیب وهمکاران لایعقلش به غلیان آمده وهردست کمک دهنده که بخواهد نجیب را ازقهراین طوفانها امان دهد، تاآرنج میسوزد .

دنوم بدلول

درور نبي الله درغبت الله زوي دننګرهارولایت دروداتو دولسوالي اوسیدونکي چي اوس دوحدت دلیسي داوم ټولګي زده کوونکي دي غواړي خپل نوم په ذکي الله باندي بدل کړي .

دنوموړي درورله ټولو دوستانو څخه هیله کیږي چي نوموړي درور وروسته تردي دذکي الله په نوم وپېژني .

آنکه جلونرود به عقب می ماند

افغان

روايتيست پرمحتوي ، تراويده هوش بديع وسليم كه درتوالي سالها وسده ها از سينه بهسينه به سده مارسيده ودر مورد كساني صدق ميكند كه باتاسف بعضا آنگونه كه بايد ويا آنچنانكه شايدازمواهب خداوندي بحيث منبع بزرگ فيوض وبركات چون خرد وبينش بصفت هستي نهادي معنوي استفاده برده نمي توانند، چه همين ودايع كريمه وكماليه انسانيت كه حضرت آدم (ع) را درواس خلقت قراردادوبعنوان خليفه برسربرزمين برگزيدو امانت وديانت مشتمل برراستي و درستي، برادري وبرابري همراه بادشواريها، ناملايماتي ونابرابريهاي پراز كوه كوتل رابدو سپرداماتيكه درصحنه زندگي بحيث وسيله درمبارزه باكشمكشها وناراحتيهاي تمام وكمال نابرابريها ونادرستي ها ازآن بهره برد، سپاه ويليات اهريمن رادرهم شكست وتعهداتيان را بفروه موفقيت رسانيد .

چه زندگي نه صرف جاي عيش وراحت ونه تنها اينست كه بايد خورد ونوشيد وخسپيد وازجابجايي رفت وشد بابراي زنده ماندن تگ وپوي غذا كرد وبراي ستريدن ازشدت سرماوگرما جامه تجويزو ببركرد . بايد دانست روزي مقدورخداوند است بدليل اين فرمان الهي : ان الله هو الرزاق ذوالقوة المتين . چنانچه حكيمي به پيروي ازآنْ نيز گويد : غم روزي مخوربرهم مزن اوراق دفتررا — كه پيش ازطفل ايزدپركند پستان مادررا .

زندگي دنياي ماجرائيست مسئولانه وآزمون طلب، آزمون بررسي چگونگي نحوه جهش مخلوق ، مخصوصا ذريه ، ابوالبشر حضرت آدم (ع) وبالاخره آزمونيكه درآن سرنوشت انسان " حدود پاداش وكيفرش را " تعين كرد .

ولي اينهم لازم تذكراست كه حقيقت زندگي ازنظراسلام آنچنان ساده وآسان هم نيست كه بعض فكرميكنند چون جاده دوطرفه كه ازيك راه شامل وازراه دگرآزدانه برون شد، زندگي اين فاصله كوتاه زماني عمرمستلزم خم ساختن روش بهارگران يك سلسله وجايب ووظايف دشواروسنگين است كه جز توجه خاص بآن توأم با حزم واحتياط كامل بخطوط دين مبين اسلام نميتوان گامي به پيش گذاشت . زيرا انسان آنقدر آزاد وفعال مايشاء هم نيست كه بتأسي ازپندارهاي مبهم وباهواوهوس واهي وآنچه خواست وبهرچه پيش آمد وخوش آمدودست زدوعمل كرد. زيرا اينگونه اعمال ازآن گونه خسته ولان باشدكه بدون تميز صواب ازخطاروي قابل گورش، سربه بيراهه زد ومرتكب اعمال زشت ونامقبول " خسرالدنيا والاخره " متجريان هستوهان ونقض تعهد " اصول اساسي " دين اسلام گرديد .

آري ! خداوند متعال انسان راباروح پاك وپالوده ونهاد آراسته وپيراسته باعطيه عظيم عقل وبصيرت درچهارچوب ضيق زندگي طوري آفريد تابحكمت وودايع روحي ومعنوي يادشده صحنه تنگ ومحدود زندگي راطوري گسترش دادكه هم صحنه رابكثافت " غيض وبغض " زاده حرص وطمع نيالودوهم دادوشيون ازشكستهاي پي درپي ازدشواريهاي ، ناشي ازجبن وتردد برنياورد . زيرا طوريكه گفته آمد زندگي عرصه وجو لانگاه تلاش وتحرك سالم دركارتشديد مبارزه عليه ناهمواريهاست . مبارزه بخاطر آسان ساختن شرايط دشوارومساعدت زمينه براي استفاده، بهترازنعماي الهي وريشه كن ساختن نابرابريها وبيعدالتيهاي ناشي ازاجحاف وظلم درپرتوي كمال حزم وثبات وچنانكه اقبال لاهوري نيز دربرابرمظالم وشدايد نابرابري ها بمردان صاحب دل چنين دعوت دهد :

به درياغلط وباموجش درآويز
حيات جاويدان اندرستيزاست

وظيفه انسان مومن بخداست باهرگونه سازگاريها درراه نيل بهدف دلبرانه پنجه نرم كردوآنرا درپرتوخردسالم ووجدان سليم باعزم وجزم راسخ ازسرراه پيشرفت بدورساخت ، زيراحق هميشه برباطل غالب بوده وميشود با تداوم مقاومت درمبارزه عليه نابرابريها فايق آمد .

چه دشواري ها ونابسامانيها اصلاً مولود تن آسائي كاهلي وترس بوده كه بحيث افزار طاغوتي حايز جهات منفي است ، وازفرط شدت كاهلي وجبن وبي باوري برخودكناني عقل ووجدان بصفت دلقك انحراف ميخواهد باپيشكش ارمغان پليد ترس وتذبذب عناصرمبتلا بامراض حرص وطمع را ازصف مبارزه برون راند وجز ترسبات واهي ساخت .

امانيروي نترس باوروايمان اين مواهب حق وديعه بينش سليم با تكاو ارشاداين آيه كريمه :" وقل جاء الحق وذهق الباطل ان الباطل كان زهوقا " همواره ميتوان درمصاف نيل بهدف زندگي به لشكرعفريت خوف وترس ومشاط هاي نظرفريب طاغوتي چنان نهيب زدكه باايجاد رخنه شديد درصفوف دشمن اهريمن ، هرگزمانعي جلومسيرش را برنتوان گرفت وازآب آزمون زندگي باسير طبيعي همچنان موفقانه برخواهد گذشت .

چنانچه باپيروي ازين اصل اصيل نيروي جهادي امت مسلمه افغان قواي طاغوتي الحاد تجاوزگر، بزعم خود شان ، آن سپاه " روئين تن وفولادچنگ ، پروردهـ روس را درنتيجه مقاومت دليرانه ونترس با خجلت وسرافگندگي بزانو درآورد وآن ديوارهشتادساله استكبار را درهم شكست ومحتواي ميان تهي ظلم قلدران قرن ۲۰ راكه ازنهيبش لرزه براندام جهان غرب طاري بود، چنان برملاوازهم متلاشي ساخت كه بخاطر تاكيد واصرارتحقق مبتحكري وآشتي محيلانه با افغانها ازدرازكردن دست الحاح وتضرع حتي بان حريف عقشت طلب سالبان درازخويش ، امريكاهم باكي نورزيد .

اماحيف وصدحيف ازآن ضايعه رسوايي بحيث آن عده هم پيمانان مبارزه جهادانقلاب اسلامي كه بافشارعروسك طمع خام وحرص پوچ ازمسير مبارزه مشترك جهاد انقلاب اسلامي فاصله گرفت وباظهارات ناخوش آيند پرازشكوه وشكايات ازدوستان واقعي به نفع دشمنان سينه بخاك حرمان زد، وبرين داعيه مقدس سيزده ساله جهاد عليه استكبار الحاد كه تا ديروز ازآن داد مشروعيت ميزد پشت پازد.

آياچه شدكه درين آستانه تحقق موفقيت مسلمين بيكبارگي سرازعنان تعهد مقدس برتافت وبحيث رسوب مبارزان جهاد راه حق پابوس دشمنان ايمان واسلام گرديد !؟

آيا تائيد تشكيل يك چنين اداره دولتي باشتراك يكي ازمزدوران سرسپرده الحاد. اعم از"نجيب باخالقيار " كه باسربه نيست كردن مليونهامسلمان پاك عقيف آلان هم دارد توسط موشك هاي دوررزن ۳٤۵ كيلومتري، طيارات جنگنده وبم افگن وسپاه بي نسب وولدحرامي روسي بنام جوزجانيان خون جوانان مبارزومجاهد وحتي بيدفاع ملكي رابيدريغ بريزانند مفهومي جز سرتسليم باالحاد دارد ؟!

آياانصاف ميدانند مبارزه سيزده ساله مسلمانان بپاخاسته وجلاوطن افغان راكه بيش ازيكنيم مليون شهيد دادهٔ وهنوزدرسنگرداغ بخاطر كسب آزادي ميهن ازلوث الحاد ومزدورانش درلاشه ها ومغاره هاي جبال سربه فلك كشيده دست اندرپيكارند بخاطر تامين خوشي چند تن محافظه كاربي تفاوت بادين ووطن درمعامله با روسهاپشت سرانداخت ؟!

ني هرگزني، نه اينجورخواستها معقول ومورد قبول امت مسلمه افغان است ونه بايد اينگونه توقع ننگين را ازمسلمانان داغديده،ازالحاد حتي دردل هم پروراتيد .

بااينوسيله ازهمچو نگرشهايي پسيف دوستان وياران جدائي طلب جدا ابراز انزجار نموده وصميمانه مي طلبيم هرگاه بگفته خودشان "خستگي !!..." عايدحال شان بوده ونميتوانند داعيه جهاد اسلامي را تاپاي پيروزي " برچيدن دام ودانه الحاد ومزدورانش ازخاك افغان " همراهي كنند ، پس چه بهتركه قراررا برقرارترجيح داد وباقرارات ننگين خويش مسير مبارزه پرخروش جهاد مقد رامخدوش نساخت . زيرا مبارزان راه جهاد انقلاب اسلامي افغان ازهمان روزنخست باشعار برچيدن تاروپود الحاد ودشمنان وحدانيت ازخاك آبايي شان افغانستان مسلمان آهنگ صريح داشته وهمچنان آنرا همان آهنگ دنبال خواهند نمود . تلاشهاي مذبوحانه بصفت گلهاي تازه ، مخالف اين شعارراتعابد بآب داد . واز ريستن اين تاركهنه وفرسوده كه دگر سمرلندي وبنارسي يافت صرف نظركرد.

مرکزي آسيا اوډپاکستان مسؤليت

ژباړه تورګل "حکمتي"

مشهورليکوال الف . ز. فاروقي دمشهوري ورځپاڼي " دي نيوز" دسپتمبر په ۲٤ نېټه په خپله ۳۵ ګڼه کي ليکي :

لکه څنګه چي ددريمي نړي هيوادونه نشي کولاي چي له پرمخ تلليو هيوادوسره مرسته وکړي ، نوپردي اساس نشي کولاي چي په نړيوالو پېښو کي مهم رول ولوبوي . که څه هم ځينو مشرانو هڅه کړي چي دخپل شهرت حاصلولپاره په دي برخه کي دنړيوالو توجه ځان ته راواړوي ، خوپه عملي توګه ئي څه فايده نده محسوسه شوي .

په حقيقت کي دغه قسم هيوادونه هغه وخت خاص اهميت ورکړي شوي دي .چي په مربوط سيمه کي مهمي پېښي رامنځته شوي اويانړيوالو طاقتونوغوښتي دي چي مربوطه‌هيوادونه دي خاص اهميت ورکړاي شي . له دي جملي پرافغانستان باندي دروسي سرولښکرو يرغل يادولاي شو چي دپاکستان لپاره دمجاهدينو له مرستي اومهاجرينوته له پناه ورکولو، پرته بله لاره نه وه ، دايوه مهمه‌موقع وه اوجنرال ضياء الحق هم ددي موقع نه په استفادي دخپلو امکاناتو په چوکاټ کي افغاني مهاجرينوته پناه ورکړه اوهم ئي دمجاهدينو سره دخپل توان په اندازه مرسته وکړه .

له دي کبله نړيوالو پاکستان ته په دي برخه کي مرستي ورکړي اوهم دخاص اهميت له کبله اشاره ورکړاي شوه چي خپل اتومي پروګرام دي پرمخ بوزي . پاکستان په نړي کي دومره اهميت ترلاسه کړ چي له افغانستان څخه دروسي لښکرو دوتلو لپاره ئي دجبتوا په خبرواترو کي مهم رول ولوبوه .

دازموږ دبحث موضوع نده چي څنګه دافغانستان په ستونزه کي دڅه مودي لپاره تعطل رامنځته شو، مګر په دي باب اساسي خبره داده چي دامريکاپانو لپاره دافغانستان کشالي اوس خپل اهميت له لاسه ورکړي . ځکه چي اوس له دي خوا خپلو منافعو ته خطر نه وينې .

له بلي خوايه نړي کي دچټکو بدلونو په رڼاکي دپاکستان دخارجه پاليسي جوړونکوته داخبره په نظرکي نيول پکاردي چي له امريکا سره دي په روابطو کي له سره غورورکړي ځکه چي دشرقي اروپا له هيوادوسره دمرستي له کبله غرب اوس دريمي نړي ته اهميت نه ورکوي اوهمدارنګه په نړيوالو چاروکي دروس پرځاي " اسلامي بنسټپاله غورځنګونو " دغرب ددښمن په حيث رامنځته شوي چي په نوي نړيوال نظام کي دخودسره عناصرو په حيث ورته کتل کيږي اوهمدارنګه دصدام حسين له ماتي وروسته په اسلامي نړي کي دغرب " يوځي چاړتي " يعني داسرائيلو حکومت ته بوازي د " اسلامي بم " له خوا خطر پيداشوي ده .

پرپاکستان باندي فشاروارديږي چي خپل اتومي پروګرام دي پرېږدي اوهم دي په خپل هيوادکي داسلامي قوانينو درامنځته کيدو هڅي .نه کوي اودغربي هيوادو دهداياتوپه رڼاکي دي خپل رول ولوبوي .

پاکستان حق لري چي خپل اتومي پروګرام پرمخ بوزي ځکه چي پاکستان له هندنه خطر لري اوپه غرب کي هم ځيني خلک پردي خبره اعتراف کوي، خوامريکانه داخبره دمنلو وړنده . ځکه هغه وائي چي له دي پروژي څخه داسرائيلو موجوديت "ته خطر متوجه دي اوهم په اسلامي نړي کي د"بنسټپالو غورځنګونو " دتقويې سبب ګرځي .

دنړيوالو چټکو بدلونو په بهيرکي پاکستان هم بايد په خپلي خارجه پاليسي دوباره غوروکړي چي په نتيجه کي پاکستان وکړاي شي چي په آزادانه توګه خپلي فيصلي وکړي ، خودغلته داپوښتنه راپيداکيږي چي آيا پاکستان کولاي شي چي پرخپلې اتومي پروژي دشرايطو منلوپرسيره ، نوموړي هدف ته ورسيږي ؟

دافغانستان په شان مسئلي هروخت منځته نه راځي، مګردداپاکستان بوه بله خوشبختي ده چي په سيمه کي دمهم رول لوبولو لپاره ورته خورابه چانس پيداشوي دي اوددي وخت رارسيدلي دي چي له ابتکارنه کارواخلي .

که څه هم له اوږدي مودي راهيسي په روس کي ناآرامي موجوده وه ، خودګورباچوف پرخلاف ترناکامي کودتاوروسته ، زياترومحکموهيوادونو خپله آزادي اعلان کړه .

دپاکستان لپاره دمرکزي آسياله هيوادوسره چي اکثريت ئي مسلمانان تشکيلوي دروابطو په ټينګولو کي دهمکاري زياتي مواقع شته دي چي نوموړي هيوادونه دکسپين بحيرې له شرقي ساحل نه دچين اوپاکستا ن ترپولو پوري ديوه او بل په خواکي پراته دي چي له ترکمنستان ، ازبکستان ، ګرغيزستان ، تاجکستان اوقزاقستان څخه عبارت دي .

دمرکزي آسيا سيمه له ۱۹۱۷ کال نه وروسته په زور په روس کي شامله کړاي شوه ، کمونستانو زياتي هڅي وکړي چي نوموړي سيمه کي کمونستي نظريه خپره کړي اوخپل تسلط قايم کړي ، مګردسيمي خلکولوموړي دټزاري دولت له خوا ديرغلونو وروسي دکمونستانو دحملو پرخلاف سخت مقاومت وښود چي په دي مبارزه کي دروحاني طريقو رول هم خورازيات و . دتبليغاتو دختني کولو لپاره کمونستانو څومسجدونه دعبادت په نوم خلاص پريښودل ، مګرله بلي خوا داسلامي کلتورله منځه وړو اوهم دمسلمانانو دزيات نفوس سره دمبارزي له کبله زيات شمير روسان په مرکزي آسياکي ميشت کړاي شول اوبرسيره پردي له زهرجني پروپاګندي اوحتي دجبر اوتيري نه کارولخيستلي شو، خونتيجه ئي بيخي معکوسه شوه اودخلکو ايمان نورهم ورسره زيات شو . پردېني تهذيب دټينګار له عواملو څخه هنداوخلکو ايمان او چي دکفارو سره دنفرت په وجه ئي دوي دغسي سخت مقاومت ته اړ کړل .

له دي څرګنده شوه چي دمرکزي آسيا داولسونو ترمنځ کلتوري، دبني اړيکي ډيري کلکي دي .

هغه هيوادونه چي داروپا خواته پراته دي لکه دبالتيک هيوادونه ، جورجيا ، مولداويا اونوردامريکا اواروپا څخه دمرستي هيله لري . ددي پرعکس دمرکزي آسيا هيوادونه غواړي چي خپلي اړيکي له آسيائي هيوادولکه ايران ، افغانستان ، پاکستان اوچين سره زيات کړي .

له روسانوسره داوږدي مودي راپديخواله ګډوړوند نه ددي سيمي خلک دي نتيجي ته رسيدلي دي چي روسان بي تهذيبه ، دروغجن اوپرنوروباندي دخپل مشرتابه غوښتونکي دي، نوله دي وجي شايد چي دمرکزي آسيا خلک دغربي کلتورسره خپله کرکه اونفرت څرګندکړي ، همدارنګه غرب هم دي ته آماده ندي چي خپلي اړيکي ددي خلکوسره ښي کړي، امريکايان به داهڅه هم وکړي چي نوموړي هيوادونه تجريد کړي اوهم ئي په خپلو منځوکي يوپربل بدګمانه کړي چي دداخلي اختلافاتو سبب وګرځي . نوله دي کبله پاکستان په دي برخه کي بايد مهم رول ولوبوي او دادغسي يوه موقع ده چي شايد بيابه په لسوونوکلوکي رامنځته نشي .

که دپاکستان مشرانو سره دنړيوالو چارو په باب څه احساس موجودوي، نوبايد په دي برخه کي دهراړخيزو ابتکاراتوڅخه کارواخلي چي دپورته ذکرشويو هيوادو سره روابط ټينګ کړي، داځکه چي کيداي شي چي په نژدي راتلونکي کي به داهيوادونه بشپړه آزادي ترلاسه کړي نوبيا به پاکستان دوي لپاره دلومړي دوست اومشاوريه حيث رول ولري .

هرڅوک په دي هڅوکي دي چي دخپلو ملي منافعو پراساس دروس دهر-هيوادسره روابط ټينګ کړي . امريکا دبالتيک هيوادونه په داسي حال کي په رسميت وپيژندل چي روس پري خوښ نه و ، داروپا دمشترك بازار هيوادونو هم دامريکا پيروي وکړه .

دافسوس خبره ده چي هندله ازبکستان سره اقتصادي ، کلتوري، معاهده لاسليك کوي چي په نوموړي هيوادکي دمرکزي آسياله نيماتي نه زيات مسلمانان ژوند کوي ، په ټول روس کي څلورم لوي ښارتاشکند هم دغلته موقعيت لري، برسيره پردي دبخارا، سمرقند په شان تاريخي ښاروته هم په دي هيوادکي پراته دي .

ديادولو وړده چي دپاکستان هدف بايد بوازي ، دعادي اړيکو پرټينګولو منحصرنه وي، ځکه چي پاکستان دهند سره دسيالي په خاطر بايد له نوموړو هيوادوسره اقتصادي ، کلتوري اوتجارتي معاهدي لاسليك اوعمل پري وکړي .

داکاردخارجه چارو وزارت اونورو وزارتونو له خوا په عادي توګه ترسره کيداي شي . که پاکستان وغواړي چي خاص روابط قايم کړي نوداګاردمروجه حکومتي طريقونه پرته هم ترسره کيداي شي .

دپاکستان هدف بايد داسي مشوري اودخدماتو وړانديزوي چي بل څوك ئي توان ونلري اوددوه اړخيزه اعتماد پريښت رامنځته شي .

پاکستان په بوداسي موقعيت کي واقع دي چي کولاي شي دمرکزي آسيا داولسونو اعتماد ترلاسه کړي، مګرڅرګنده ده چي په دي برخه کي دعادي ديپلوماتيکي اړيکو ټينګولو او دتجارتي معاهدو پرلاسليکولو برسيره بايد نور زيات وړانديزونه ولري . کله چي پاکستان ددوي اعتماد حاصل کړ اودهغو لپاره ديو باوري دوست حيثيت پيداکړي نونورراتلونکي پيچده مسائل به په اسانه توګه طي شي .

اوسني حالات تقاضا کوي چي برسيره پرعا دي حکومتي موسسو پاکستان بايد يوخاص بنياد (موسسه) تشکيل کړي چي په خاصه توګه داسلام ديراختياپاره کاروکړي اوهم مرکزي آسيا ته يکي خاص اهميت ورکړي شي .

نوموړي موسسه بايد دپاکستان دصدراعظم سره مستقيمه روابطه ولري اوپه ټولو هغو ستونزوکي چي دمرکزي آسيا هيوادونه ورسره مخامخ دي ، هغو سره مرسته وکړي . دمرکزي آسيا هيوادونه کولاي شي چي په شريکه يومرکزي بانك جوړکړي اوپاکستان بايد په دي برخه کي خپل مشاورتي رول ولوبوي .

دمرکزي آسياهيوادوله جملي څخه تراوسه څلورونې دآزادي اعلان کړي دي خوورسره ئي دروسي فدراسيون سره داقتصادي اويولي تعاون خبره هم کړي ده . که پاکستان په دي برياني شوچي دمرکزي آسياله هيوادو سره خاص اړيکي ټينګي کړي نوله يوي خواداکابل رژيم چي دروس له خوا دمرستي دکيمدو له کبله ويره لري ، نودپاکستان په شمول به داسلامي بلاك په جوړيدو په تطفه کي خنثي شي اوله بلي خوابه وورسره دمجاهدينو مورال خوراقوي شي اوپه صفونوکي به ئي يووالي راشي .

که په دي برخه کي بهاي اسلامي هيوادونه ونډه واخلي ، نوکيداي شي چي داسلامي هيوادونو يوبلاك جوړشي چي دنوي نړيوال نظام پرخلاف به يوصف تشکيل کړي .

ازسردچار شدن بدان ناگزيريم تذكرات اصلاحي تانرا بكاربستيم اميدواريم قناعت شماراحاصل كرده باشيم ازهمكاري تان ممنونيم . (اداره)

مجددي صيب په خپل آخري بيان کي چي په اسلام آباد کي نشرشو وويل چي غوښتل مي پخپله مسکوته سفروکړم خومريضي راته پيداشوه اوهغه سفرلړ څه وځنډيده اوس مي خپل خارجه وزيراستادبرهان الدين رباني ته اجازه ورکړي چي ولاړشي اودهيئت مشري وکړي .

که ورته ځيرشونوليدل کيږي چي دمجددي صيب اوامر اوحکمونه څه عجيب وغريب دي ځکه ئي دځواب ورکولو قدري تکليف هم څوك نکوي . که نه استادرباني که چيري مسکوته سفرکوي منوهغه به دمجددي صيب دآرزو پرخلاف دمنحل شوي موقت حکومت دخارجه وزيرپه حيث نه بلکه ديوقدرتمندجهادي تنظيم دمشرپه توګه چي دورسره هيئت پوره ملاتړيه ورسره وي په کارخوداوه چي استادرباني پخپله مجددي صيب ته ددي خبري ځواب همغه وخت ورکړي وائي . اوس هم بايد ددي خبري ځواب ورکړي ځکه هغه څه چي مجددي صيب ئي کوي په هغه رازئي اټکل نه کيږي چي استادرباني دي ئي ورسره قبول کړي . ځکه همداوس

دجمعيت اسلامي زيده کسانو دځمکنيو په غونډه کي نه يوالځي مسکوته دهيئت سفرمحکوم ګڼلکه دحضرت صيب .خپل سري ليدلي کتني ئي دروس دخارجه وزير بورس پنکين سره هم په کلکه وغندلي اوهغه ئي داسلامي انقلاب له پاره توهين وګاڼه .

ددي نه اخوا خبره داستادسياف ډيره عجيبه بريښي ځکه له يوي خواهغه دخپل منحل شوي حکومت دمشرمجددي صيب سره پوره متضاد روان دي خودبل خواته دمجددي صيب ددي خبري په ځواب کي بالکل چوپ پاتي دي چي په خنداتي له نړيوالو راډيوګانو سره وويل چي هغه زما صدراعظم دي مادهغي سره خبري کړي .

عجيبه خوداده چي له يوي خوا مجددي صيب په ټول توان کوشش کوي چي دسياسي حل داسي يوه لاره پيدا کړي چي هغه په کي پخپله رئيس دولت پاته شي نه ئي په موقت حکومت چرت خراب دي اونه ئي په خپل صدراعظم اوکابينې . خو صدراعظم ئي دلته بيان ورکوي اووائي چي هغه څه چي مجددي صيب ئي کوي ورسره موافق نه يم اوپه کلکه ئي ردوم .

مجددي صيب ورته وائي چي هغه مي صدراعظم دي اوزه ئي رئيس ددولت يم اوهغه بل مي وزيرخارجه دي ماورته اجازه ورکړي !! واه واه داصدراعظمي !! واه واه دا وزارت خارجه !!

هغه لاڅه چي دمخابراتو وزيرئي اوس خپلي مخابري دي لوري ته متوجه کړي .نه دجهادوسنګريه لورقدم اخلي اونه په سياسي ميدان کي کوم ابتکارته لاس اچولي شي . او ډيره دردونکي لاداچي دتحريك اسلامي ● نوم (ديپجاروموټروګروپ) اوس غواړي دخلکو اذهان ګمراه کړي .

په اصطلاح رئيس ددولت ، اسلامي تحريك دجړوونه باسي اووزيرئي ورته لاسونه پړکوي .

موئيد دانجينير احمدشاه صيب اسلامي تحريك ته هغه وخت خوښ راي چي نوموړي قدرمن خراقلا دداسي بي بنياده حکومت څخه دهغي درئيس دغيرمسئولانه حرکاتوپه خلاف احتجاجاً استعفي ورکړي واي چي باخوداموقت حکومت راځپل کړي اوبائي په لغته ووهي چي له نوم څخه خوئي حضرت صيب بده ګنه پورته نکړي . اوبيروني ملاتړوني ئي هم هغه صيب ته دميليونو ډالرو دچيکونو دورکولو څخه ډډه وکړي همدا نبره ورځ په بو اخبارکي دوه قصي داسي وي چي يوخو مجددي صيب ته دسعودي حکومت د۸ ميليونو روپو چيك اوبله خبره ئي ديومجاهد چي پنبه ئي دلاسه ورکړي اودانجنيرصيب احمدشاه په تنظيم کي دي په ګدايي بوخت دي .

نوزه وايم چي : په دي آخري وخت کي د " لاوس به باباغوښي دوړي راوړي " دمثال مصداق مه ګرځې ، ددي انقلاب په خلاف نړي وال سازشونه خپل اوج کي دي . واسلامي تحريك ترمنځ دتفکيك اوتفريق په ځاي بو والي راوړي، په خپلو کي سره په يوه طرحه کښيني بحث وکړي همدا اوس دښمن زموږ له دي روان ويجاړ حالت نه ګټه پورته کوي، هغه هره ورځ زموږ دسرسري خبرو اوويناو څخه مستندي خبروني جوړوي اوخپروي ئي او پرنړيوالو غږکوي چي دادي دمجاهدينو دمشرانو دريځ ، اوپخپله دمجاهدينو دمشرانو خبري دشاهد اومصداق په توګه بيانوي هغوي غواړي چي دکمونيزم جنايات زموږدګوږو حالت ترپردو لاندي کړي . نو که خداي ناخواسته دښمن بري پيدا کوي نوټه به داصدارت وي اونه وزارتونه .

نه به هلته تلاي شي اونه به دي دليه ځولا پريږدي . اوته به درته دا " اسلامي تحريك " دخداي په نزد اوددي مستضعف مجاهد شهيدپالونکي ملت اومعيوب قوم په وړاندي نجات درکړي .



ورورنجيب احمد همدرد ته !

داخبار له ستاينې مُرشکريه .

شهادت دحزب اسلامي له هردفتراوهم په پېښوركي دځينو نورومشهورو دفترونو، روغتونونو، پوهنتون اونورونځيونه لاس ته راوړي شي .

درالبېرلي تراني په باب عرض دادي ، چي يوخودا دشاګردانوله خواکمپوزشوي، اوله بل اړخه ستاسي خپل شعرنه دي، نوځکه يي له نشرولو ته معذرت غواړو . ستاسو دهمکاري په هيله

******

برادرمحترم عبدالمتين شهيدي محصل معهد شرعي نامه شما را گرفتيم واز درد دل تان آگاه شديم اينك جهت كسب رضايت خاطر شما قسمتي ازنامه تان رابدون تصرف به نشرمي سپاريم اداره

روزي از روزها بنده با يكتن ازهم صنفانم به صوبي درحركت بوديم درخيابان رحمن بابا واقع آبدره رود رسيديم جائيكه خانه مسكوني حضرت صاحب مجددي نيز موقعيت دارد ناگاه چشمم به انبوه از انضباطان تقريباً چاق وريش كل افتيد كه بدور يك جوان ملبس به مودوفيشن غربي باريش كل ،سرلوچ ورنگ تمايل به زرد گردآمده اند من ساده لوح به همرا هم گفتم خداخير كند مجددي صاحب باز هم كدام مصاحبه دارد.خداكند خطر ناك نباشد رفيقم گفت چطور گفتم مگر ژورنالست غربي را نمبيني كه درين انضباطان مجددي صاحب ايستاده است من به خاطري گفتم " خداخيركند " كه مجددي صاحب درين روزها به خاطر كه در راس هيئت اعزامي مسكو بحيث رئيس انتخاب نشده بسيار خفه وغمگين است. باز او مثل مصاحبه هاي اسبقش سخنان كه از شان يك رهبر بدورباشد نزند.

